**UNITED NATIONS**　　　　**NATIONS UNIES**

# په افغانستان کې د ټول ټاکنو د پروسې په هکله د ولسمشر کرزی د اعلان په هکله د ملګرو ملتونو د عمومي منشي وینا

**۲۰ اکتوبر، ۲۰۰۹**

زه په افغانستان کې د ولسمشریزو ټاکنو په هکله د جلالتمآب ولسمشر کرزی د وینا تود هر کلی کوم. نوموړی په ډاګه کړې چې د اساسي قانون د پروسې ملاتړ باید په بشپړه توګه وشي. دا پروسه د هیواد د راتلونکی په اړه او د خلکو ګډون د هغوي په برخلیک کی پوری تړلی ده.

زه د ولسمشر کرزی څخه د هغی د مشرتوب د ښکاره کولو لپاره او د افغانستان اساسي قانون ته د بشپړ درناوی او د دی هیواد د ډیموکراتیکو پروسو لپاره د هغه د ژمنتوب  څخه ستاینه کووم.

زه همدارنګه له ډاکټر عبد الله څخه هم د نوموړی د با وقاره روش د کمپاین په موده کی او  همدارنګه د ټول ټاکنو څخه د وروسته ستونزمنې مودې په دوره کی هم ستاینه کوم.

دغه ټاکنې په ډیرو زیاتو سختو حالاتو کې ترسره شوې. هغه زړورتوب او صبر چې د افغان وګړو او د هغوي د مشرانو له خوا وښودل شو باید په هغه اعتراف وشي او وستایل شي. هغوي د ډارونو، ګواښونو او نا امنیو په حالت کې رایه ورکړه.

دا لومړی ځل دی چې افغاني موسسو د جمهوری ریاست ټاکنې ترسره کړې. دغو موسسو، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون یو بل سره له نږدې څخه کار وکړ څو چې د افغانستان د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون په دقیق رعایت سره خپل فعالیت ترسره کړي. ملګرو ملتونو د دغو موسسو د کار ملاتړ وکړ څو دا باوري کړي چې ټول هغه د اعتبار وړ رایې چې د ۲۰۰۹ کال د اګست په ټاکنو کې اچول شوي په پام کې ونیول شي او د افغان وګړو غږ په واضحه توګه واوریدل شي.

په پای کې زه همدارنګه غواړم له خپل ځانګړی استازي، ښاغلی کای ایده او کارمندانو څخه چې په یوناما کې کار کوي مننه وکړم چې په نه ستړې کیدونکې توګه یې کار کړی دی څو د افغانستان د مشروعو موسسو څخه ملاتړ وکړي او د ټاکنو پروسه په لار روانه کړي.